**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**پروفیسور فیلیپ آلستن د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د شورا ځانګړی ګزارشګر د غیرقانونی، اختصاری او پخپل سر وژنو په برخه کی**

**ښاغلی علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست**

*کابل- د می د میاشتی پنځلسمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما :** ښاغلیو او اغلیو سهار مو نیکمرغه، زما نوم علیم صدیق دي د یوناما د ویاندوي د دفتر څخه یم. نن د موږ سره د نا قانونه خپل سر او یا په بیړه د اعدامونو په باره کې د ملګرو ملتونو ځانګړی ریپورټر پروفیسور فلیپ الستون له نیوریاک له پوهنتون څخه دی.

د افغانستان د دولت په غوښتنه پروفیسور الستون ۱۲ ورځې دغه حالت تـه پـه لیدونو سره تیری کړي دي. زه باید په دې ټینګار وکړم چې پروفیسور لـه یوناما څخه خپلواک دی او پـه نیغه توګه د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د جینوا شورا ته رپوټ ورکوي.

د پروفیسور د لومړنیو موندونو یوه کاپۍ په یو لنډ رپوټ کې د میز د پاسه له مطبوعاتي اطلاعیي سره موجوده ده. یوناما به دغه رپوټ په راتلونکو ورځو او اوونیو کې په دقت سره ولولي پخوا له دې چې پـه دغو موندونو باندې کومه تبصره وکړي.

زه اوس ځای پروفیسور الستون ته پریږدم چې دي به یو څو خبرې وکړي او لـه هغه وروسته بـه موږ ستاسو پوښتني په خوښۍ سره واورو.

**ځانګړی استازی:** ډیر خوشحال یم چې نن دلته یم لکه چې علیم وویل زه دملګرو ملتونو کارمند نه یم بلکې یو خپلواک کارپوه یم په افغانستان کې زما دنده دا ده، چې د ډیرو خلکو سره خبرې وکړم لـه څومره سره چې امکان ولري، حالت و ارزوم او وروسته له هغه د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا تـه رپوټ ورکړم. دا چې زمـا رپوټ تـه څـه پیښیږي لـه همدې ځایه وروسته پـه ټولـه مانـا د افغانستان د دولت، نړیوالي ټولني او نور فعالینو په غبرګون پورې اړه لري او زما هیله دا ده چې دغه رپوټ بـه د جدي بحثونو لپاره د بشري حقونـو د یو شمیر موضوعګانو په باره کې چې کار کولو ته اړتیا لري یو اساس وي.

ما د هغو کسانو څخه چې لیدني مې ورسره ترسره کړې، د ډیرې ښې همکارۍ څخه یې برخمن وم. مـا د یوه لړۍ پراخ شمیر خلکو سره لیدلي دي، مثلا د دولت لـه مشرو وزیرانو، قاضی القضات او د ملي امنیت تر رئیس پورې. ما په بیلا بیلو ځایو کې د پوځي قوماندانو سره لیدلي دي، لکه کابل، هلمند، کندهار او بګرام. او ما ډیرې ونډې له مدني ټولنې، مشرانو او نورو سره درلودلي دي.

یوزای د یو یادداښت په توګه زه باید و وایم چې دغه اعلامیه چې ستاسو لپـاره پـه انګلیسي، دري او پښتو کـې شتون لري ډیره مفصله ده او له تاسو څخه هیله کوم چې یې ولولئ. کومي تبصري چې اوس کوم لنـډې بـه وي د دې لپاره چې د پوښتنو لپاره وخت ولرو.

زما توجه د قضایي چاپیریال څخه بهر اعدامونو ته ده یا هغو شیانو ته چې ناقانونه وژنـي ورتـه ویل کیدای شي. اصلي فعالین چې د هغوي چلند زمـا تـر څیرنـي لانـدې دی پـه هغـو کـې دولت، پـه خـاص ډول پولیس، نړیـوال پوځـي ځـواکونـه او د طالبانو په ګډون د دولت ضد عناصر دي. زما د رپوټ د پای کرښه دا ده چې ډیرې وژنـې شته چې د مخنیوی وړ دي.

ما خپلې موندې په دې لانـدې جملې سره خلاصـه کړې دي: د پولیسو وژنـې باید بندې شي. د وژنـو لپـاره پـه قانوني سیستم کې د پراخ معافیت شتون باید پـای تـه ورسیږی. د ښځو او نجونو وژنـې باید پـای تـه ورسیږي. نړیوال پوځي ځواکونه باید د خپلو اعمالو د ریښتین حساب ورکول تضمین کړي او ملګري ملتونـه پـه خپلـه بشري حقونو ته په خپلو فعالیتونو کې لا ستره ونده ورکړي.

د نړیوالو پوځي ځواکونو په ارتباط داسي رپوټ ورکړل شوی دی، چي دسږ کال په لومړیو څلورو میاشتو کي تر ۲۰۰ ملکیانو پوري وژل شوي دي. او دا اکثره وختونه د افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډو عملیاتو کي له منځه تللي دي.

خو زما اصلي اندیښنه د احصائي او ارقامو سره نه ده، اصلي موضوع د حساب ورکولو مسله ده. ما د یو شمیر لوړ پوړو پوځي چارواکو سره لیدلي دي او دا ما ته څرګنده ده چي نړیوال ځواکونه تر ډیره بریده کوشش کوي چي د ځانګړیو قضیو په اړه څیړني وکړي او خپل اړونده ملي میکانیزمونه فعال کړي. خو ستونزه دا ده چي نتیجه یي د سیالی کوونکو اجرااتو یو جنجال دی لکه ملي ترتیبات او داسي نور، چي اساسا د نفوذ کولو وړ نه یوازي د یو عادي افغان لپاره چي یو خپل یي له لاسه ورکړی دی، حتی زما غوندي یو چا لپاره هم دی چي هغه په دغه برخي کي مسلکي کارپوه دی

کله چي ما د تیر کال د ملکي تلفاتو د شمیر پوښتنه وکړه، د یو څو پوځي مشرانو له خوا ما ته وویل شو چي دغه شمیري یا په افغانستان کي شتون نه لري او یا دا چي دغه شمیري خاص دي او ما ته په واک کي نه شي را کول کیدای. کله چي ما د ځینو قضیو د پایلو په باره کي پوښتنه وکړه، د دي ادعا په باره کي چي ایا هغه څوک چي په دغه کار کي شامل وو، سزا ورکړل شوي ده او که نه، ما ته وویل شول چي دا ډول معلومات دلته په افغانستان کي شتون نه لري او دا چي البته زه باید د اړوندو هیوادونو اخبارونه ولولم.

په پای کي نړیوال ځواکونه چي څه تر لاسه کوي هغه د عامه اړیکو خرابوالی دی. هغوي په سیاسي کچه لازم قدمونه نه دي پورته کړي چي د تلفاتو په اړوند تر یو لازمه حده پوري شفافیت او حساب ورکوونه باوري کړي. دا یوه ستره سیاسي مسله ده، ځکه چي په افغانستان کي د خلکو ملاتړ او نړیواله ټولنه په دي پوري اړه لري چي نړیوال ځواکونه هغه څه کوي چي فکر یي کوي د افغانستان خلک باید همغسي وکړي، دلته په کار ده چي هغوي تر حساب لاندي راشي.

په پای کي د حساب ورکولو دغه ستونزي په دي هیواد کي د موجودو ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کي لا زیاتي شوي دي چي هغوي د هیڅ ډول نظامیانو په وړاندي حساب ورکوونکي نه دي خو جوتیږي چي د بهرنیو استخباراتو له خوا به کنترولیږي.

زما رپوټ د هغو وژنو په اړه دی چي د پولیسو له خوا کیږي، د هغو اصلاحاتو طریقه چي له مخي یي پولیس وروزل شي، تجهیز او تر څآرني لاندي وي، او د هغه معافیت پای ته رسولو ته متوجه دی چي معمولا پولیس یي د ملکي وګړو تر وژلو وروسته لري.

زما په رپوټ کي ځیني ځانګړی وړاندیزونه د پولیسو د روزني او د هغوي د حساب ورکولو په اړوند راغلي دي، او زه د دي وړاندیز کوم چي اوس به د دي تفصیل ته نه ځو خو په دي برخه کي پوښتنو ته ځوا ووایم.

زما رپوټ کي د ښځو حالت ته ځانګړي پاملرنه شوي ده زه دي ته د وژنو له زاویي ګورم: لومړی، ښځي قانوني سیستم ته نږدي هیڅ رسیدنه نه لري، دوهم: هغوي پخپله اکثره وخت تر هدف لاندي راځي په تیره بیا د دولتي ضد عناصرو له خوا چي ګڼ لاملونه لري، دریم: بیچاره ګي او ناهیلي همیشه د هغي ښځي په برخه وي چي میړه، زوي، او پلار یي وژل شوي وي، ټولنه، حکومت په سیستماتیکه توګه د تاوان جبران او نوري مرستي ورته نه برابروي، څلورم: په اصطلاح د ناموسي وژنو ستونزه. دغه پیښي ډیري دي چي احصائي په

لاس کې نه شته، خو ډیر هغه کسان چې ما ورسره خبرې کړې دي ما ته يې د ډيرو پيښو په اړه ويلي دي. دا د افغاني ټولني لپاره يوه غميزه او بدبختي ده. دلته د قتل څخه بل څه د بې عزتۍ لپاره نه شته او کله چې هم دغه قتل د ناموس تر نامه لاندې وشي نو دا ډیره غټه مسخره ده.

زما بیانیه د اعدام په سزا باندې د ځنډ او مهلت په اړه ده. ددې لامل ساده دی: عدلی پروسه لازم معیار نه لري چې ددې باور ورکړي هغه کسان چې د اعدام د حکم لاندې راغلي دي تر سمي پروسې څخه به تیر شي. او په دې صورت کې که هغوي اعدامیږي نو دا د نړیوال قانون څخه سرغړونه وي. زما په بيانيه کې د اداری فساد ستونزه څیرل شوې ده، په تیره بیا په عدلي پروسه کې، خو نه یوازې دا.

زه دولت ته ددې وړانديز کوم چې کاملا یو خپلواک د فساد ضد کمیسیون جوړ کړي چې هغه د تفتیش او تعقیب لپاره پوره ځواکونه ولري. ددغه ډول نوښت پرته ډیر کمیسیونونه او رپوټونه په دې اړوند هیڅ څه نه شي کولای.

په پای کې زما رپوټ کې د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو د وژنو په اړه راغلي دي. د اټکل سره سم په تیرو څلورو میاشتو کې د ۳۰۰ څخه زيات ملکي کسان وژل شوي دي. تر هغه ځایه چې طالبان نظامي هدفونه تر ګوزار لاندې نیسي نو دا د نړیوال قانون څخه سرغړونه نه ده. بد مرغي دا ده چې ګڼ شمیر نږدې په سلو کې ۹۵ کسان او لا تر دې زيات چې وژل شوي دي هغه بې ګناه افغانان وو.

زما وروستنۍ تبصره دا ده چې کله هم زه یو هیواد ته سفر کوم زه په سیستماتیکه توګه هلې ځلې کوم چې د مخالف لوری د استازو سره، وسله وال اپوزیسیون او که په بل هر ډول توضیح شوی وي خبرې وکړم. دا کار ما د سریلانکا او فلیپین په هیوادونو کې کړی دي، او زه باوري یم چې که ما د طالبانو د استازو سره خبرې کړې واي نو دې به ډیر مرسته کړې واي. ما ته د دې امکانات برابر شوي وو خو هغه پیغام چې ما د حکومت او نورو عاملانو څخه تر لاسه کړل ډیر څرګند او واضح و. د طالبانو سره د بشري حقونو د مسئلو په اړوند بحث نه شي کیدلای. زه فکر کوم چې دا يوه غلطي وه. زه په دې فکر یم چې هر اړخ چې په بشري حقونو باندې اغیز ولري هغه باید تر بحث لاندې راشي، او زه وایم چې دا به د بشري حقونو د فعالینو لپاره په هیواد کې مناسبه وي چې طالبان د بشري حقونو په اړه اقداماتو کې را ګډ کړای شي. زه دغه ویناوې ردوم چې ګواکې د طالبانو سره مذاکرې طالبانو ته رسمیت ورکوي. طالبان شتون لري، هغوي په ګڼ شمیر وژنو کې اخته دي، موږ دا مکلفیت لرو چې په رسمیاتو باندې متکی و نه اوسو بلکه هڅه وکړو چې د ملکي تلفاتو او وژنو کچه را ټیټه کړو.

**یوناما:** ډیره مننه پروفیسور الستون. اوس موږ پوښتنو ته راځو. آیا زه کولای شم چې ستاسې په نوم او مطبوعاتي موسسه باندې پوه شم. ښه به وي چې موږ پر یو وخت یوه پوښتنه واورو.

**آل انډیا راډیو:** تاسو وویل چې کله تاسو د دتیرو میاشتو په ترڅ کې د ملکي کسانو د تلفاتو د معلوملو پوښتنه وکړه نو تاسو ته وویل شول چې په دې هکله معلومات موجود نه دي، آیا دا معلومات خوندی معلومات دي. خو ستاسو رپوټ د تیرو ۳ میاشتو په ترڅ کې د ۲۰۰ ملکي کسانو د وژلو رپوټ ورکوي. تاسو څنګه وکولای شوای دغه ډولي شمیرې تر لاسه کړئ؟

**ځانګړی ریپورټر:** زما تبصري د نړیوالو پوځي سرچینو څخه د موجوده رسمي معلوماتو پر سر ولاړې دي خو هغه ارقام چي زما په رپوټ کي يې یادونه شوې د یو شمیر زیاتو سرچینو څخه تر لاسه شوي چي د ملګرو ملتونو په شمول خپرې شوي دي.

**تمدن تلویزیون:** ستاسو په رپوټ کي هیڅ ډول نویو معلوماتو ته ځای نه دی ورکړل شوی، هغه احصائی او ارقام چي خپاره شوي نوي نه دي، خو د وژل شویو کسانو د ربښتینو احصایو په هکله چي د تیرو څو کلونو په ترڅ کي وژل شوي، څه معلومات لرئ؟ دوهم، د ملکي کسانو د کچي د راکمولو په هکله د یوې ربښتینې تګلارې څرګ څه دی، آیا دې ستونزې ته د حل په موخه تاسو د نړیوالو ځواکونو او طالبانو سره کومې خبرې اترې ترسره کړې؟

**ځانګړی ریپورټر:** تاسو پوهیږي چي په دې اړه ما د طالبانو او یا هم د نړیوالو ځواکونو سره کومې خبرې اترې نه دي ترسره کړي. زما په رپوټ کي یو شمیر وړاندیزونو ته ځای ورکړل شوی او تاسو باید دا بیان مطالعه کړئ. اجازه را کړي څه اضافه کړم، د ملکي کسانو د تلفاتو په اړه د نړیوالو پوځي ځواکونو د حساب ورکولو لپاره په خصوصي او ټولیز ډګرونو کي د مباحثې اړتیا لیدل کیږي.

**ایکونومیست:** زه غواړم د بهرنیو استخباراتي خدمتونو د نقش په اړه او همدارنګه ستاسو په رپوټ کي د هغو وړاندیزونو په هکله چي د ښکیلو افغان ملیشايي واحدونو په هکله دي ستاسو څخه پوښتنه وکړم.

**ځانګړی ریپورټر:** ما د بهرنیو استخباراتي کړیو د عملیاتو په هکله د یو شمیر زیاتو خلکو سره خبرې اترې کړي دي. زه نه غواړم چي د هغوي نومونه واخلم، خو هغوي د مشرتابه په کچه کي واقع دي او خورا مطرح څیرې دي. دا ښکاره خبره ده چي په ځینو ولایتونو کي ځیني واحدونو عملیات ترسره کوي، او نومونه یې هغو ټولو ته ښکاره دي چي په دې مسایلو کي ښکیل دي او دا قوتونه د کوم معافیت څخه پرته خپل کارونه ترسره کوي. کله چي هم د نړیوالو ځواکونو څخه د عملیاتو په هکله پوښتنه وشي نو د دوي ځواب کله نا کله دا وي چي موږ په دې هکله هیڅ معلومات هم نلرو، او کله بیا هم خبرو ته غوږ نیسي، خو اکثرا دا یوه ستونزه ده او زه هیله کوم چي دوي به په دې هکله څه وکړي.

**طلوع تلویزیون:** لکه څنګه چي تاسو وویل ملکي کسان د داخلي، نړیوالو او طالبانو په بریدونو کي مري، د داسي تمایل ادامه څنګه وینئ؟

**ځانګړی ریپورټر:** زه یو پوځي او امنیتي کارپوه نه یم، او نه شم کولای په دې هکله څه ووایم. زما د رپوټ لاسته راوړني دا ښیي که چیرې دا دلي وغواړي نو کیدای شي چي د هغوي د پوځي قابلیت تر متاثره کیدو پرته د ملکي کسانو د تلفاتو کچه راټیټه کړي.

**د طلوع تلویزیون د پوښتني په دوام:** زما پوښتنه په خلکو د دې ډول تمایل د اغیزو په اړه ده او څنګه کیدای شي ځايي خلک په نړیوالو او دخلي پوځونو اعتماد او باور وکړي؟

**ځانګړی ریپورټر:** دا یو غوره ټکی دی. زما په نظر ټول ښکیل اړخونه هڅه کوي چي د خلکو باور تر لاسه کړي. تر هغه چي دوي د ملکي کسانو په وژلو کي ښکیل وي نه شي کولای د بریالیتوب کوم فرصت تر لاسه

کړي. زما رپوټ په خاص ډول د پولیسو کلیدي رول ته اشاره کوي او په رپوټ کې ویل شوي چې په زیاتره ولایتونو کې د حکومت پوځي قوت پولیس دي. که چیرې پولیس کمزوري وي نو خلک به فکر وکړي چې حکومت د ویرې څخه ډک دي. که چیرې هغوي موثره وي او د امنیت په برخه کې هغه کارونه ترسره کړي چې هغوي یې باید وکړي نو خلک به د یوه فعاله حکومت خوند وڅکي.

**اریانا تلویزیون:** تاسو وویل چې ملکی وګړي وژل شوي، کومه ډله د دغو وژنو مسوله ده؟ داخلیان، نړیوال او که طالبان د دې وژنو مسوولیت لري؟ تاسو همدارنګه وویل چې د ځینو لاملونو له کبله تاسو و نه کولای شو چې له طالبانو سره خبرې وکړي، که چیرې تاسو ته چانس در کړای شوی وای، آیا تاسو چمتو یاست چې له هغوي سره خبرې وکړي؟

**ځانګړی ریپورټر:** لومړی زه پوهیږم چې دا هغه څه نه دي چې تاسي غواړي واوري، خو شمیرې اصلی کلی نه ده، دلته کومه سیالي هم نشته. که چیرې نړیوال ځواکونه ۱۰ تنه تر هغو نه زیات وژني چې دوي ورته اړتیا لري دا یوه تراژیدي ده، که چیرې طالبان یو زر تنه له هغو کسانو څخه زیات وژني چې دوي ورته اړتیا لري دا یو تراژیدي ده. دوي باید هغه څه وکړي چې یې کولای شي او هغه څه چې دوی یې د کولو مسوولیت لري، چې ملکي تلفات له منځه یوسي. د طالبانو په اړوند ما وویل چې زه دې ته چمتو وم چې له هغوي سره خبرې وکړم او دا به زما ارزو وه چې دا کار مي کړی وای.

**اسوشیټید پریس:** آیا کولای شئ د ټام د د پوښتنې په باره کې یو څه توضیحات ورکړئ چې دغه نړیوال پوځونه باید د استخباراتي خدماتو په ارتباط دوي باید څه وکړي او دا څنګه کار ورکوي؟ دوهم آیا تاسي په فزیکي توګه د طالبانو له لیدونو څخه منعه شوي یاست او که داسي وي نو د چا له خوا؟

**ځانګړی ریپورټر:** زه ډیر نور څه نه شم ویلای، زه په فزیکي ډول منع شوی نه وم، لکه چې ما وویل پیغام څرګند او څرګند وو. د بهرنیو استخباراتي خدمتونو په اړوند زه دلته په کافي اندازه د اوږدې مودې لپاره نه یم اوسیدلی، چې هغه مفصل تحقیقات ترسره کړم چې تاسو او ما دواړو به خوښ کړی وو چې سرته ورسیږي، خو ما په چټکی سره اساسي حقیقتونه سره را ټول کړه چې ما تاسو ته بیان کړه.

**کلید راډیو:** زما پوښتنه د هغه وخت په باره کې ده چې تا د رپوټ په تیرولو کې تیر کړ او تاسي څومره ډاډه یاست چې ستاسو وړاندیزونه به د اړوندو خواوو له خوا په نظر کې ونیول شي.

**ځانګړی ریپورټر:** ما د دغې دندې د تیارولو لپاره ډیر وخت تیر کړ، ما په زرګونو مخونه لوستلی دي، ما هغه مشر وزیر سره ملاقات وکړ چې ما غوښتل و یې وینم، ما د ټولو لوړ پوړو پوځي خلکو سره چې ما غوښتل و یې وینم ملاقات وکړ. زه د ډیرو کمو خلکو فکر کوم چې ما و نه شوای لیدلی، ځکه چې ما په پیل کې وویل زما د وړاندیزونو اغیز په تاسي پورې اړه لري. په بله وینا زه هیڅ قدرت نه لرم زه یوازې د هڅولو قدرت لرم. زه به د نړیوالې ټولنې په هکله ملګرو ملتونو ته رپوټ وکړم که چیرې زما وړاندیزونه ګټور وي، نو یا د دولت یا د نړیوالې ټولنې او یا د مدني ټولنې له خوا به و منل شي. که چیرې هغه ګټور نه وي نو هغه څه به ورسره وشي چې حق یې، یعني چې له پامه به وغورځول شي. زه فکر کوم دغه وړاندیزونه ګټور دي.

**اینډیپینډینټ:** تاسو د افغانستان د حکومت او نړیوالو وسله والو ځواکونو چلند د بشري حقونو ملکي تلفاتو او په دې اړوند چې د دغو تلفاتو کچه راټیټه کړای شي څه ډول ارزوئ؟

**ځانګړی ریپورټر:** هغه مهم شی چې باید په یاد وساتو دا دی چې د دغو ډلو هیڅ یوه یې یو واحد نه دی. تاسو د افغانستان د حکومت په اړه غږیږئ، هغه کې ډول ډول مفکورې او لر لیدونه شته. په حکومت کې د ننه ځینې کسان د بشري حقونو د اهمیت څخه خبر دي. نور یې زیاتره په نورو مسلو لکه امنیت او نورو بوخت دي. ما پخپله بیانیه کې په دې ټینګار کړی دي، چې دلته د بشري حقونو مختلفو خواوو ته د توجه کولو پرته به امنیت نه وي. زه فکر کوم چې په دې ډول دا په نړیواله ټولنه پورې هم اړه لري. دا د افغانستان لپاره ځانګړی او نوی نه دی. د بده مرغه زه پروفیسور یم او هغه لنډ لکچر چې دلته یې زه غواړم ورکړم دا دی چې تر هغه وخته پورې چې کوفي عنان د ملګرو ملتونو سرمنشي شي، د هغه تر مخ ډیر شمیر سرمنشیان وو چې په دې باوري وو چې بشري حقونه د لا زیاتو ستونزو د حل په وړاندې خنډ دي. نو ځکه زما دنده دا ده چې حکومت او نړیواله ټولنه په دې قانع کړم چې بشري حقونه په حقیقت کې د امنیت، انکشاف او نورو اجنډا ګانو په برخه کې مهم رول لري.

**پژواک خبري آژانس:** زما پوښتنه د هغو خلکو د بندي کیدو په هکله ده چې د تیرو څو میاشتو راهیسې د ایتلاف ځواکونو له خوا په بند کې ساتل شوي او ستاسو په رپوټ کې دې مسلې ته اشاره نه ده شوې. آیا دا دې کبله ده چې تاسو دې ډول اطلاعاتو ته لاس رسي نه لري او یا تاسو دې اطلاعاتو ته لاس رسي نه لري او یا تاسو ته ددې د پوښتلو اجازه نه ده در کړل شوې؟

**ځانګړی ریپورټر:** زه ډیره بخښنه غواړم چې زه به دې پوښتنې ته یوازې له قناعت څخه پرته ځواب وواېم. زما د ماموریت زیرنه په خپل سره وژنو ده، دا ما اړ باسي چې د حکومت جوړښت ته نظر واچوم خو دا ماته اجازه نه راکوي چې زه ځورونې، توقیف او د نورو مهمو مسلو په هکله کتنه وکړم.

**وروستني یاددابښتونه:** مغوي د هیڅ ډول تبصري مسوولیت نه لري کومي چې ما دلته یادې کړې. زه د علیم څخه مننه کوم او همدارنګه د ښاغلي علی څخه دښې ژباړې په هکله هم مننه کوم. زه هیله کوم چې زما ابتدایي بیان او وروستی رپوټ چې له بده مرغه به څو میاشتې ونیسي څو د ملګرو ملتونو د بیلا بیلو نمایندګیو، د افغانستان د حکومت او نورو پروسو څخه تیر شي، خو هیله کوم چې د ځان سره به همکاري او مرستې راوړي.

ډیره ډیره مننه

---